واحد فقیری ۲۰۱۲/۱۰/۲۳

# افغان امنيتي قواوي او امريکايي ميډيا

په امريکايي مطبوعاتو کي، د واشنګټن پوسټ او نيويارک ټايمز ورځپانو د افغانستان امنيتي قواوو پر حالاتو باندي جلا رپوټونه خپاره کړي دي. په متحده ايالاتو کي، د افغانستان د عمومي امنيتي حالاتو په ارتباط اندېښني زياتي سوي دي ځکه له يوې خوا د ناټو او امريکا عسکر وځي، او له بلي خوا د هېواد امنيتي شرايط ډاډه ندي، او د طالبانو حملې ډيري سوي دي.

«زرغون پر شين» په حملو کي، څه له پاسه ۵۰ بهرني عسکر او افسران يوازي سږ کال وژل سوي دي. پر خارجي عسکرو باندي د افغان عسکرو همدا مرګاني بريدونو د هغوی تر مينځ اعتماد ډېر زيانمن کړی دی.

بلخوا، د افغان امنيتي ځواکونو کلنی لګښت ۴ بيلونه ډالره تخمين سوی دی، حال دا چي د افغان حکومت کلنی بوديجه ۲ بيلون ډالره ده. نو بنا، خارجيان مجبوره دي چي د افغانستان د ثبات لپاره په کلونو د افغان امنيتي قواوو د تمويل لپاره ۴ بيلونه ډالره برابر کړي.

مګر که چيري د غرب او په تېره بيا د امريکا اقتصاد ته وکتل سي، دا راز وعدې خيالي او غير واقعي برېښي. بل پلو همدا ژمني د کابل حکومت د وعدو په پوره کولو باندي تړاو لري. مانا د کرزي حکومت به اداري فساد ختموي، ازاد، شفاف، او منصفانه انتخابات به کوي، ډيموکراسي به تقويه کوي، او ښه حکومتوالي به جوړوي! مطلب مي دا دی چي پدې ژمنو باندي باور کول د ځان غولول دي. هڅه سوې ده چي د رپوټونو غټ ټکي ترجمه سي.

د واشنګټن پوسټ ورځپانه د اکتوبر پر ۲۰ ليکي که څه هم د افغان پوځ د کميت ټاکلي شمېره تر لاسه سوه، خو پدې هڅه کي کيفيت قرباني سو. په کم وخت کي، د افغان اردو او پوليسو ته زيات ځوانان جلب سول، خو د هغوی کيفيت او وړيتا ته لازمه توجه و نه سوه. په امنيتي قواوو کي خلګ جذب سول، خو هغوی سم فيلتر نه سول.

خبرپال په مقدمه کي ليکي، «له ډېر وخت راهيسي، د پنټګان عالي رتبه مشرانو، د سپيني مانی سلاکارانو، او په کانګرس کي د دواړو ګوندونو استازو لپاره د افغان پوځ او پوليسو چټکه توسعه او ډېرېدا له افغانستان څخه د امريکايي عسکرو د راوتلو د ستراتيژی مهم عنصر وو. د تېرو څو کلونو په ترڅ کي، هغوی استدلال کاوه چي د دريې نيم لک کسيزو امنيتي قواوو جوړول به د افغان حکومت پدې وتوانوي چي د ناټو قواوو له وتنګ سره سره به د افغان امنيتي قواوي د طالبانو سره د جنګ کولو توان ولري.»

اخبار اضافه کوي که څه هم د نويو افغان عسکرو ټاکل سوې شمېره پوره سوه، خو بيا هم دافغان امنيتي قوه ددې جوګه نه سوه چي امنيتي حالات پخپله او يوازی سر سمبال کړي. هيڅ افغان کنډک د امريکايي مشاورينو له امداده پرته د مستقل عمل توان نلري. اکثره پوليسان زياتره وخت ددې پر ځای چي ګزمه وکړي او امنيت قايم کړي، د خلګو څخه د رشوت اخيستلو پر لارو چارو باندي تېروي. د اول صف عسکرو او پوستو ته نه اعاشه، نه اکمالات، او نه هم نور لوازم پر وخت رسېږي. اخبار ليکي چي تر ټولو بده دا ده چي همدا عسکر او پوليس په زياتېدونکي توګه خپل د ټوپک شپلی پر خپلو ملګرو او بهرني عسکرو باندي راړوي.

اخبار ليکي، د افغان امنيتي قوې کلني مصارف به ۴ بيلونه ډالره وي، او تر اوسه پوري متحده ايالاتو دافغان پر اردو باندي ۵۰ بيلونه ډالره لګولي دي. امريکايي پوځي چارواکي وايي لدې مصارفو سره سره د افغان امنيتي قوې جوړول په افغانستان کي د امريکايي عسکرو له لګښت څخه ارزانه تمامېږي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اخبار وايي اکثره نوي عسکر بېسواده دي. اکثره نه غواړي چي له طالبانو سره وجنګېږي. امريکايي عسکر وايي افغان عسکر بې کفايته او لټ دي.

همدا کمزوری ددې سبب سول چي اوس ځيني امريکايي افسران وايي چي په افغانستان کي د ستري امنيتي قوې پر جوړېدنګ باندي ټينګار درست نه وو، او بايد کيفيت ته لازمه توجه سوې وای. سپينه مانۍ او پنټګان اوس دواړه پدې راضي سوي دي چي دافغان پوځ شمېره څه د پاسه دوه لکه ته راکښته کړي.

بلخوا، د نيويارک ټايمز ورځپاڼه د اکتوبر پر ۱۵ کاړي له عسکري خدمت څخه د افغان عسکرو تېښته او فرار د امريکا د خروج ستراتيژي له خطرونو سره مخامخ کړې ده. اخبار ليکي په افغان اردو کي تېښته دونه ده چي افغان پوځ هر کال ۳۳ فيصده زاړه عسکر له لاسه ورکوي او بايد نوي خلګ استخدام کړي.

ځيني مرکه سوي عسکر له خدمت څخه د فرار او تېښتي سببونه دا ښيي: رشوت او اداري فساد، بده ډوډۍ، بد صحي خدمات، کورنيو ته د طالبانو تهديدونه، او د امريکايي عسکرو تر وتنګ وروسته د طالبانو په مقابل کي د امنيتي قوې کمزوري او مات يادوي.

ډګروال اکبر ستانکزی چي د اردو د جلب و جذب د مرکز له مشرانو څخه دی، وايي،«هلته داسي د مخدره موادو قاچاقبران سته چي غواړي زموږ په قطعاتو کي نفوذ وکړي، د دښمن نفوذي خلګ چي هدف يې د مشکلاتو ايجادول دي، او د محبس شوقيان چي بل کار او روزګار نلري. »

نيويارک ټايمز ليکي هر عسکر د مياشتي ۲۶۰ ډالره معاش لري. که چيري يو عسکر خپل قرارداد نوی کړي هغه ته ۲۳ فيصده اضافه معاش ورکړل کېږي چي لږ تر لږه ۳۲۰ ډالره کېږي. خو ددې معاش سره سره، په عسکرو کي فرار او تېښته زياته سوې ده.

ښاغلي غبار ۲۷ کلن دی او د پروان ولايت دی. هغه خپله قطعه شپږ مياشتي مخکي خوشي کړې ده. هغه د خپل نظامي روزني په خاطر يوې شخصي امنيتي کمپنۍ سره کار کوي. غبار وايي، « په اردو کي اصلا حساب او کتاب نسته. که چيري هلته څه مسوليت او حساب او کتاب وای، اردو به دونه خرابه نه وای. ما خپله اداري فساد ليدلی دی. زموږ افسران ددې پر ځای چي له دښمن سره جنګ وکړي، د پيسو په غلا کولو لګيا ول. زياتره وخت زموږ په وريجو کي يوازي هډوکي ميندل کېدل، غوړ هم کم ول، او غوښه نه وه.»

محمد فضل کوچی ۲۸ کلن دی او سخت جنګونه يې تېر کړي دي. هغه وايي،«که په پوځ کي د افسرانو په مينځ کي اداري فساد نه وای، زه به هلته پاته سوی وای. هر سړی پدې لګيا دی چي څرنګه د امريکانو تر وتلو مخکي خپل کورونه جوړ کړي.» ښاغلی کوچی وايي که امريکايان ووځي، د افغان پوځ به ختم او ورک سي.

شېراغا ۲۵ کلن دی او د کنړ دی. هغه وايي،« نامعلومو خلګو زما د کورنۍ غړو ته تهديدونه کول او هغوی ته يې ويل چي ما مجبوره کړي چي اردو خوشي کړم. »

والسلام

واحد فقيري - واشنګټن


افغان جرمن آنلاین په دربښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ